چهارصفحه

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

تمبرمسلسل (۱۱۷٤) سال نزدهم - شمارهٔ (۷۱) سه شنبه (۱۹) سرطان ۱۳۷۵ هـ ش (۲۳) صفرالمظفر ۱٤۱۷ هـ ق (۹) جولای ۱۹۹٦ م

استاد برهان الدین ربانی رئیس دولت اسلامی افغانستان دربیانیه یی بمناسبت اربعین شهدای کربلا:

# امیدواریم کسانیکه کابل راهدف راکت قرارمیدهند، متوجه صلح شوند

تلاش میورزیم صفوف جهادی پهلوی هم قراربگرند ومتحد شوند ، وحدت وهمزیستی ملیت هاتقویه گردد

حرکت کربلا می آموزاند که درهرفرصت وباآنچه دراختیار داریم باید به دفاع از اسلام اقدام کنیم وبخاطر فرصت بهتر وقت راضایع نسازیم

وما محمد الارسول قدخلت من قبله الرسل أفاين مات اوقتل انقلبتم على اعقبكم ومن ينقلب على عقبيه فلن يضرالله شيئاوسيجزی الله الشكرين

توجه شما را به متن سخنرانی محترم پروفیسر برهان الدین ربانی رئیس دولت اسلامی جلب میکنیم که در قلعه فتح الله خان کابل وبمناسبت اربعین شهدای کربلا ایراد شده است .

علمای محترم ، برادران محترم !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :

برای من جای بسیارخوشی است که با برادران بسیارعزیزخود درمراسم اربعین سیدالشهدا ، نظربه وعده یی که قبلاً با عده یی ازعلمای محترم وبزرگان ناحیه قلعه

ص (۲)

## الهی لارښوونې

دخپلومشرانوابراهیم علیه السلام، اسحاق علیه السلام اویعقوب علیه السلام تګلاره می غوره کړی ده ،زموږ داکارندی چی له الله سره څوک شریك وانګیرو. په حقیقت کی داپرموږ اوپرټولو انسانانو باندی دالله فضل دی ( چی هغه موږ له خپله خانه پرته دبل چا غلامان نه یوګرځولی ) خوزیاته خلك شکرنه باسی .

( یوسف - ۳۸ )

# ولس په شعارونو نه قانع کیږی ، عملی بدلون غواړی

متاسفانه موږ ډیر ښه فرصتونه له لاسه ورکړی که څلورکاله دمخه متحد شوی وای ډیر مشکلات به مو په آسانی حل و

## باید ویشل شوی او پراګنده اقتدار په یوه مرجع کی راټول شی

داستاد «ربانی » استاد «سیاف » او انجنیر مسعود صادقانه اوصمیمانه هڅو زموږ اتحاد رامنځته کړ

واقعیت دادی چی دا ددین طالبان نه دی ، که ددین طالبان وای نو دمجاهدینو د یووالی به یی ملاتړ کاوه

طالبه ! ته هغه وخت چیری وی چی هره ورځ به پولیګون کی په لسګونو مومن ځوانان په اعدام محکومیدل هغه وخت چیری وی چی په ارغنداب ... جات اوکندهار په یوکیلومتری کی دروسانواومجاهدینو خونړی معرکی روانی وی

طالبان به وپوهیږی چی دمجاهد سیکول ، هغه ولسه تری اخیستل چی په خپلو وینو یی له روسانو نیولی اودکور حرمت یی تر پښو لاندی کول څه نتیجه لری

دریم مخ

## دهیواد صدراعظم وروورحکمتیار په مشری دوزیرانو عالی مجلس غونډه وشوه

# دوزیرانو شوری دکابل ښاریانو دبریښنااوڅښلو اوبو په باب غور وکړ

کابل - دچنګاښ ۱۸ مه :

دهیواد دصدراعظم په مشري دوزیرانو عالي مجلس غونډوکړه .

دکابل له ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دوزیرانو عالي مجلس

(٤)مخ

## پیام تبریکیه ازطرف داکترحسن حبیبی معاون رئیس جمهور ایران عنوانی برادر حکمتیار

# انتصاب شما بحیث صدراعظم جدید افغانستان گام مهمی برای برقراری صلح وزمینه ساز اعمار مجدد افغانستان می باشد

تهران - ۱۸ سرطان :

به سلسله ارسال پیام هاي تبریکیه عنواني برادرحکمتیار بحیث صدراعظم

ص(٤)

# دترکیی صدراعظم نجم الدین «اربکان » دپارلمان داعتماد رای ترلاسه کره

انقره - دچنګاښ ۱۸ مه :

دترکیي صدراعظم دهغه هیواد دپارلمان رائي ترلاسه کړه .

دنړیوالوخبري منابعوپه حواله دترکیي نوي صدراعظم نجم الدین «اربکان» دهغه هیواد په پرونۍ پارلماني غونډه کي داعتماد رائي ترلاسه کړه .

دغوخبري منابعو زیاته کړه چي

ص(٤)

## دکنړولایت استازو له صدراعظم سره وکتل

کابل - دچنګاښ ۱۸ مه :

دهیواد صدراعظم د کونړ ولایت دسپین ږیرو ،مشرانو اوجهادي قوماندانانو سره وکتل .

دکابل له ښارڅخه د شهادت خبریال

(٤)مخ

## په پاکستان کی میشته دټل دکمپونو مهاجرین

په هیواد کی دیوسوچه اسلامی حکومت جوړول زموږ یوازینی ارمان دی

# جهادی مشران دی دسولی لپاره د ورور حکمتیار کړنلاره غوره کړی

ټل - دچنګاښ ۱۸ مه :

دهیواد دنوي صدراعظم وروور حکمتیار دټاکل کیدو اوپه هیواد کي دیوسوچه اسلامي حکومت د جوړیدو په

پلوي دمهاجرینو په بیلابیلوکمپونو کي غونډي رواني دي .

دټل له کمپونو څخه شهادت ته په رارسیدلو رپوټونو کي ویل کیږي چي

دوهمه ورځ دټل دبیلابیلو کمپونوعلماوو، مهاجرینو ، قومي شخصیتونو دیوي لویي غونډي په ترڅ کي دهیواد دنوي صدراعظم

(٤)مخ

## دهیواد جمهور رئیس استاد «ربانی » داتحاد اسلامی داجرائیه شورا له غړو سره په کتنه کی :

# یواځی په انتقاد او ملامتولو سره مسئله نه حل کیږی

دټولو ګوندونو څخه زموږ غوښتنه داده چی دسولی دټینګښت اودهرراز دښمنی اوناوړه تفاهم دپای ته رسولو په خاطر دسولی دبهیر سره یوځای شی

کابل - دچنګاښ ۱۸ مه :

دافغانستان داسلامي دولت رئیس داتحاد اسلامي د اجرائیه شورا له غړوسره وکتل .

دکابل له ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دافغانستان جمهوررئیس استاد برهان الدین رباني پرون له غرمي مخکي داتحاد اسلامي داجرائیه شورا غړي خپل حضورته ومنل ، ددغي کتني په ترڅ کي په هیواد کي دسولي دټینګښت

اوپه دي لاره کي ټولوډلوته دعوت وکړل شوچي دسولي د پیل شوي پروسي سره یوځاي شي اوپه خپلو عملي ونډي سره دغه پروسه لاپسي چټکه کړي .

دهیواد جمهوررئیس داتحاد اسلامي

(٤)مخ

## سناتورمسعود کوثر حین سخنرانی درکمیته روابط خارجی پارلمان پاکستان :

# حکومت جدید افغانستان خواهان برقراری وتحکیم روابط دوستانه میان هردوکشور میباشد

اسلام آباد - ۱۸ سرطان :

سناتور مسعود «کوثر» گفته است که حکومت جدید درافغانستان می تواند باعث استقرارصلح وامنیت درآن کشورشود .

طبق گزارش مطبوعات پاکستان وی

ص(٤)

## دختیکو پله دمهاجرینو په غونډه کی :

# زموږ هیوادوال سوله غواړی ، دماهیپر تروڼ دټولو ډلو لپاره دسولی دروازه پرانستی

پیښور - دچنګاښ ۱۸ مه :

دوهمه ورځ پیښورته څیرمه دختیکوپل

ددولت ززیو په جامع جوماتو کي یوه لویه غونډه وشوه .

(٤)مخ

## هاشمی رفسنجانی دردیدار بامهمانان شرکت کننده در کنفرانس بین المللی افغانستان وامنیت منطقه :

# جهادمسلمانان مبارز افغانستان،مایه آبروی جهان اسلام شد

اختلاف درافغانستان علاوه بربرادرکشي به حیثیت بین المللی مردم مبارز و جهادگر افغانستان صدمه می زند

## صلح مقدس ترین آرمان مردم افغانستان است

جنگ درافغانستان برنده یی ندارد ، تنها راه حل بحران گفتگوهای مسالمت آمیز مي باشد

تهران - ۱۸ سرطان :

صلح مقدس ترین آرمان مردم مسلمان افغانستان است .

این مطلب را آقاي هاشمي رفسنجاني رئیس جمهور، جمهوري اسلامي ایران "دردیدار بامهمانان شرکت کننده درسیمنار بین المللي افغانستان و امنیت منطقه منعقده تهران که گزارش آن در روزنامه «ایران » انعکاس یافته ابرازداشته است .

روزنامه مذکور به نقل ازرئیس جمهور کشورشان نوشته است که آقاي رفسنجاني درادامه سخنان شان گفتند : در کسبري

ص(٤)

# حزب مخالف در مجلس سنای پاکستان خواستار اخراج سفیرامریکا ازآنکشور شده است

اسلام آباد - ۱۸ سرطان :

احزاب مخالف درمجلس سناي پاکستان خواهان اخراج سفیرونامطلوب قراردادن باقي کارمندان سفارت امریکادرکشور شان شده اند .

طبق گزارش روزنامه هاي معتبر پاکستان این کاربدنبال رویه اهانت آمیز پرسونل امنیتي سفارت امریکادرمقابل وسیم سجاد رئیس مجلس سناي پاکستان صورت گرفته ونماینده گان احزاب مخالف آنرا عمل توهین آمیز نسبت به ملت پاکستان خوانده اند .

راجاظفرالحق رهبر حزب مخالف درمجلس سناي پاکستان درنکته اعتراضش گفته است که رویه زشت محافظین امریکایي سفارت براي همه مردم پاکستان قابل تأسف است وتقریباً

اکثریت اعضاي حزب مخالف درسخنراني هاي جداگانه شان خودداري وسیم سجاد ازشرکت در روز استقلال امریکاراغیرت ملي خوانده و اشتراك دوتن ازنماینده گان

دولت پاکستان راعلي الرغم رویه اهانت آمیز پرسونل امنیتي سفارت امریکا نهایت قابل تأسف توصیف کرده اند .

ص(٤)

# اعلان حکومت جدید درافغانستان زمینه ساز مشارکت سایر گروه های افغان درحکومت آینده می باشد

## تبصره رادیو مسکو

مسکو- ۱۸ سرطان :

اعلان حکومت جدید درافغانستان آغازگر ائتلاف وسیع میان گروه هاي مختلف افغان محسوب مي گردد .

رادیومسکو ضمن تبصره خصوصي پیرامون انکشافات وتحولات اخیراوضاع درافغانستان ، اعلان کابینه جدید توسط برادرحکمتیار صدراعظم کشور رانخستین تجربه دقیق وموفقانه براي جلب وشرکت جناح هاي ذیدخل قضیه افغانستان خوانده است .

ص(٤)

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

**صاحب امتیاز:** حزب اسلامی افغانستان

**موسس:** انجنیرحکمتیار

**ناشر:** ریاست ارشادوفرهنگ

**سرمحرر:** محمد نذیر«بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

**تیلیفون:** ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور


## مشارکت دراقتدارو حکومت امتیازیافدا کاری وایثار

همانگونه که پیش بینی می شد اتحاد وهماهنگی حزب وجمعیت اسلامی افغانستان همه معادلات ومعاملات سیاسی رادرداخل وخارج افغانستان بهم ریخته فصل نوینی در صحنه سیاسی-اجتماعی افغانستان بوجود آورده است ، که ضرورتاً می بایست کلیه تحلیلهاوتفسیرها وارزیابی ها برطبق شرایط جدید ومناسب باتوقعات ونیازهای اساسی مردم محروم تبیین گردد وبرهمین اساس تصمیمات وفیصله های لازم اتخاذ وبه موقع اجراء گذاشته شود. از آنجا که منزه ترین وشایسته ترین قیادت ها وامارت ها همانا قیادت امیر مجاهد ومخلص فی سبیل الله است ، وبحمدالله والمنة اکنون ملت افغان باایثار وقربانی های خویش مفتخربداشتن رئیس جمهوری مجاهد چون محترم استاد برهان الدین «ربانی» وصدراعظمی چون محترم انجنیر حکمتیار گردیده اند که مورد لطف وهدایت خداوند متعال بوده هدایتها وترجیح هایشان بهترین رهنمود برای مجاهدین مخلص وفداکار می باشد، بخصوص اینکه درشرایط فعلی هم و غم دولت اسلامی افغانستان تأمین امنیت بمعنای واقعی آن وتهیه ضروریات رفاهی مردم ودفاع ازحدود وثغور کشور درمقابل مداخلت ها وتوطئه های دشمنان اسلام وبرقراری عدل الهی درجامعه افغانستان است . بناءً اطاعت وفرمانبرداری ازدولت اسلامی افغانستان نه یك وظیفه تشکیلاتی برای کلیه مامورین نظامی وملکی است بلکه برای همه آحاد ملت یك وجیبه شرعی بوده وموجب نزول برکات الهی ودورشدن مصائب وسختیها میگردد وتخلف ازآن سبب منع الطاف پروردگار ونازل شدن عذاب میگردد. درقرآن کریم آمده است « لئن شکرتم لازیدنکم ولئن کفرتم ان عذابی لشدید» اگرشکرنعمتهای خداوند را بجای آورید نعمتهای زیادتری نازل میگردد واگر کفران نعمت گردد منتظر عذاب سخت خدا باشید. داشتن قیادت وامیری مجاهد ومؤمن، که ازغم ملت خواب رابرخود حرام نموده ودرنیمه های شب ... مشکلات مردم مستضعف ره حل جستجو می کند وپروردگار ازخداوند خود طلب یاری ومساعدت می نماید که دراین مسئولیت وامتحان موفق شود، درمقابل حکومتهای کافروظالم وفاسد گذشته ، لطف ونعمتی است بس بزرگی که شکرآن یعنی اطاعت ازدولت اسلامی وهمکاری باارگانهای آن موجب نزول نعمتهای فراوان دیگری همچون امنیت ، رفع مشکلات اقتصادی، ریشه کن شدن منکرات، برقراری شعائرالله ومظاهر اسلامی ، عدالت اجتماعی و .... وبالاخره اسوة حسنه شدن برای سایر ملتهای جهان میگردد .

وبرعکس تخلف ازاوامر دولت اسلامی کفران نعمت بوده ، اگرخدای ناکرده شخصی یااشخاصی ویاگروهی درصدد مخالفت ویامعاندت ویاسوء استفاده ازاموال دولتی گردند ومخلصانه بـه دولت اسلامی خدمت ننمایند و از امکانات دولت اسلامی که حق مستضعفین ومردم محروم است درجهت منافع شخصی ویاقومی ویا .... غیره استفاده نمایند ، شکرقیادت وامارت مجاهدومومن خودرا بجا نیاورده مستحق عذاب میگردند، که پناه میبریم بخدا ازآنروزیکه خداوند کسی را برماسلط کند که بمارحم نمیکند « که آن روز عذابی سخت خواهد بود » .

رئیس دولت اسلامی افغانستان برادرمجاهد محترم استادبرهان الدین «ربانی» دربیانات تاریخی خود درتاریخ ٦ سرطان درمحفل تحلیف صدارت عظمی برادرمجاهد انجنیر حکمتیار فرمودند، امروز درشرایط فعلی مشارکت در اقتدار یك فداکاری وایثار است نه یك امتیاز ، وکسی که مسئولیت وماموریتی می پذیرد باید آماده فداکاری شبانه روزی بودهمچون یك سپاهی پیش مرگ آماده خدمت به ملت محروم وداغدیده افغانستان باشد» درهمین رابطه برادرمجاهد انجنیر حکمتیار صدراعظم دولت اسلامی افغانستان فرمودند درشرایطی که مملکت درحال جنگ است، مرزهای کشور بازاست، دولت کنترولی برواردات وصادارات ندارد، ، اقتصاد مملکت متلاشی است، فقروگرسنگی همه جاگیر است ، ووووو .... ، ماو شما مسئولیت بسیارسنگینی بردوش خود داریم،درسرنگونی رژیم کفر بلطف وعنایت خداوند متعال موفق شدیم وازامتحان اول سربلند برآمدیم . امروز امتحان سنگین تروبزرگتری درپیش است که دراین امتحان نیز ، به لطف وهدایت خداوند منان نیازمندیم که بااخلاص وتقوی باردیگر در بازسازی مملکت ورفع مشکلات مردم محروم ومسلمان افغانستان موفق وکامیاب شویم .

قبل از دخول درتحلیل وتفسیر درباره بیانات فوق ضرورتاً لازم است در باره ارزیابی ارزشها درجامعه بحث مختصری ارائه شود ، پس آنگاه رابطه ارزیابی بامسائل سیاسی فعلی وبیانات دستگاه رهبری دولت اسلامی نتیجه گیری وسنجش گردد .

درهرجامعه ونقطه ای ازجهان ارزشهایی وجود دارند که براساس اعتقادات مذهبی، ملی ونیاز های مادی وساختار اجتماعی آن جامعه ارزیابی می گردد .

برای مثال دریك جامعه اسلامی داشتن هزاران بشکه شراب هیچ ارزشی ندارد بلکه برای صاحب آن مشکلاتی نیز ازطرف حکومت اسلامی ایجاد میگردد بابرعکس دریك جامعه کافروضداسلام داشتن هزاران نسخه قرآن کریم کدام ارزشی برای مالك آن نداشته بلکه احتمالاً ضررهایی رامتوجه دارنده آن می نماید وازاین قبیل مثالها درمورد مسائل مادی وملی ، بناءً داشتن شراب درجامعه اسلامی ضدارزش ودرجامعه کفری ارزش محسوب می شود و برعکس داشتن قرآن درجامعه اسلامی ارزش ودرجامعه کفری ضدارزش بحساب میآید .

در دوران جهاد بخصوص درزندگی هجرت ارزشهایی وجود داشته که نسبت به وضع فعلی افغانستان بعضاً باارزشی کاذب بوده یااصلاً ضدارزش بوده وبخاطر جوحاکم درآن زمان ارزشی محسوب میگردیده است .

باتوجه باینکه جوحاکم دوران هجرت اسلامی نبوده وارزش های ضداسلامی وتبلیغات ضد جهادی رواج داشت ، باید یکباردیگرتمام ارزش ها را ارزیابی کرد وارزشهای غیر اسلامی را ازبین برد وارزش های اسلامی را مطرح کرد وهرگونه ارزش کاذب وضداسلامی را ضد ارزش معرفی کرد. درزندگی هجرت درخارج افغانستان وضع مرده بدبختانه نبود، فقر وگرسنگی، بیکاری ومریضی، جنگ وناامنی ..... غیره وجود نداشت مهاجرین درموسسات خارجی ویا در بازارهای کار

بقیه درصفحه (۳)

# امیدواریم کسانیکه کابل راهدف راکت قرارمیدهند ، متوجه صلح شوند

فتح الله داشتم دراین روز مهم درتاریخ اسلام ومسلمانان درمجلس شما حضور بهم میرسانم

برادران وخواهران !

به ارتباط شهادت سیدناحسین (رض) به ارتباط اثرات عمده ومهمی که در اثر جانبازی سیدالشهداء، درتاریخ اسلام ومسلمانان بمیان آمده اگرروز ها و ماه ها صحبت بکنیم نمی توانیم حق این واقعه را ازلحاظ اثرات عمده ومهمی که در تصحیح سیرتاریخ اسلام داشت انجام بدهیم . شهادت سیدناامام حسین (رض) رانباید در بعد غم انگیز اومطالعه کنیم زیرا آیات بینت که قبلاً قاری صاحب قرائت نمودند وباردیگرمن آنرا خدمت شما قرائت کردم بیانگر عمق اهداف زندگی رهبران و پیشوایان ونقش آنها یعنی نقش تعین کننده شان نه تنها در دوران حیات و زندگی شان است بلکه بعد از مرگ ، اثرات عمده که مرگ شان وشهادت شان بجا میگذارد باید شهادت سیدناحسین ومرگ انبیاء وبزرگان دین را در بعدرهبری آنها و آنچه بعد از زندگی شان گذاشته اند مطالعه کنیم .

آیاتی که تلاوت شد به ارتباط قرآن عظیم الشان پیش ازرحلت پیامبرگرامی برای آنکه مسلمانان به علت رحلت پیامبر دریك دوراهه و در یك سراب وصحرا سرگردان نشوند وبفهمند که بعد ازرحلت پیامبر چه مسئولیت دارند .مطالب بسیار عمده یی را قرآن عظیم الشان به مسلمانان نشان میدهد و رویش انگشت میگذارد قرآن کریم میفرماید :-

ترجمه :

«حضرت پیامبر(ص) نیست مگر پیامبری . پیش ازحضرت پیامبر پیامبران دیگری گذشتند اگر پیغمبر محبوب و گرامی شما ای مسلمانان کشته شود اگر رحلت نماید آیا شما به دوره جاهلیت بر میگردید ، راه ورسم پیامبر گرامی تان را میگذارید، آیا شما در دوران حیات پیامبر ازهدایات او اطاعت مینمودید و بعد از اینکه پیامبر گرامی در میان شما نباشد سنت پیامبر را میگذارید. این راه مسلمانان صادق ومخلص نیست که چون پیامبر، سیدالشهداء، رهبران و پیشوایان دینی و مذهبی درمیان شان زنده باشند این ها ازراه ورسم دینی و مذهبی خود اطاعت میکنند وچون آنها درمیان شان نباشد ، شهید شوند ویابه مرگ طبیعی رحلت نمایند وازجهان بروند دیگراین ها گمراه ، عصبانگر و سرکش شوند»بدانید ای مسلمانان ! ای رهبران راه اسلام ! کسانی که مسلمان اند رسم وآئین شان چنین نیست که در دوران حیات پیامبر و پیشوایان دینی براه درست روان باشند اما به محض اینکه پیامبر ازمیان شان دورشد چون بنی اسرائیل که برای چندی حضرت موسی علیه السلام به کوه طور رفت گوساله پرست شدند و ازراه تورات منحرف شدند این راه ورسم مسلمانان نیست . بدانید کسیکه به عقب میگردد ، منحرف می شود وبعد ازرحلت پیامبر ائمه و رهبران دینی راه ورسم دینی خود را میگذاردبه آنان هیچ ضرری نمی رسانند .

در قید قوانین زندگی وطبیعت هیچ اختلالی بمیان نمی آید اگرمشکلی هم به میان میاید وبحرانی صورت میگیرد متوجه زندگی افراد منحرف است زیراخداوند نیازی به انسان ندارد ، انسان است که احتیاج به خدا، پیامبر و پیشوا دارد .کسیکه از راه خدا برمیگردد جزاینکه به خودش ضرر رسانده باشد به نظام و قوانین الهی هیچ نوع صدمه وضرری رسانده نمی تواند . خداوند پاداش میدهد عناصر شکرگذار را . قرآن برای انسان ها ی مبارز و ملت های که در راه حق و در راه دعوت اسلامی مبارزه میکنند یك سلسله قوانین دیگرتاریخی را بیان میکند وبه مسلمانان دستورمیدهد کسانی که در زمان مبارزه در راه دعوت در راه پیروی از اسلام و ارزش های دینی دچار

**شهادت حضرت امام حسین (رض) یقیناً یکی از دردناك ترین وفاجعه بارترین وغم انگیز ترین حادثه درتاریخ است آیا حضرت امام حسین (رض)میگذاشت که حوادث درجهت انحراف روان شود،آیا میگذاشت پیام جد بزرگوارش حضرت محمد (ص) بدست عناصری که راه کج روی را اختیارکرده بودند در مسیر بیراهه برود .**

رنج وزحمت شوند برای شان مثال های ازتاریخ نمونه های اززندگی مبارزین را خداوند در قرآن یاد میکند که نه تنها شما مسلمانان بامشکلات روبرو شده اید بلکه در طول تاریخ پیروان ادیان انبیاء نیز روبرو شده اند .این یك سنت همیشگی الهی بوده ، بسا از پیامبرانی که همراه با اوخدا پرستان یکجاجهاد ومبارزه کرده هیچ سستی ، هیچ ضعف و قصوری در اراده شان بمیان نیامده تسلیم نشدند . دربرابرجباران در برابر شرایط بسیارخفت کننده هرگز تسلیم نشدند وخداوند صابرین را دوست دارد. » شهادت حضرت امام حسین (رض) یقیناً یکی از دردناك ترین وفاجعه بارترین وغم انگیز ترین حادثه درتاریخ است آیا حضرت امام حسین (رض)میگذاشت که حوادث درجهت انحراف روان شود؟آیا میگذاشت پیام جد بزرگوارش حضرت محمد (ص) بدست عناصری که راه کج روی را اختیارکرده بودند در مسیر بیراهه برود ؟ولی این درسی بود که حضرت حسین (رض) ازجد بزرگوارش حضرت محمد (ص) آموخته بود . این درسی بود که در قرآن عظیم الشان آموخته بود که باید انبیاء مبارزه کنند و دراین راه جان های شرین خود را ازدست بدهند .رهروان راه انبیاء مبارزه کنند . جگرگوشه ونواده حضرت پیامبراکرم باید مبارزه کند جهاد نماید ، شهید شود تا ارزش های والای اسلامی حفظ شود.

شهادت حضرت امام حسین (رض) درسی بود برای همه مسلمانان درطول تاریخ الی قیام قیامت ، به مسلمانان آموخت که هرگاه خطری متوجه اسلام شود ولواینکه آمادگی ها بصورت کامل نباشد به انتظار شرایط بهترنباید نشست تا همه امکانات در اختیار نیروهای مبارز ومومن واقع شود بلکه باید آنچه ممکن است شرایط را آماده ساخت و برای جلوگیری از انحراف وبرای جلوگیری از بین رفتن ارزشهای والای اسلامی دست به مبارزه زد آماده شهاد ت و آماده فداکاری شد .

این درسی بود که ملت مسلمان ما در افغانستان ازشهادت خون امام حسین (رض) آموخته بود . راستی زمانیکه قشون سرخ وارد کشورماشد ملت ما در برابرقشون سرخ اگرقیام نمیکرد چه میکرد؟ میگذاشت دولت های اسلامی یکی بعد دیگری به کام کمونیزم فرو میرفت . منتظرمی بودند تا امکانات وسیعی را که کشورهای غربی و امریکایی ها در اختیار داشتند بدست مباوروند وبعد باقشون سرخ مبارزه میکردند؟ اگربه فکر چنین امکانات وشرایط می بودند دیگرخدای نخواسته ازافغانستان اسلامی نامی نمی بود واز بسیار کشورهای اسلامی دیگری نیز نام ونشانی باقی نمی ماند .به همین شکل امام حسین با مشتی از کودك وطفل و زنان ازخانواده و ازاهل بیت و دستیاران ومحبان دربرابرعناصر ظالم و جبار قیام کرد تا درسی بوده باشد برای همه مسلمانان که هر جا خطری را متوجه اسلام ببینند منتظر امکانات وسیع وگسترده نشوند بلکه باید دست به کار شده جلو انحراف را بگیرند وخطر را از اسلام وامت اسلامی دفع نمایند. به لطف الهی ما دیدیم که اثرات شهادت امام حسین (رض) باعث

**شهادت حضرت امام حسین (رض) درسی بود برای همه مسلمانان درطول تاریخ الی قیام قیامت ، به مسلمانان آموخت که هرگاه خطری متوجه اسلام شود ولواینکه آمادگی ها بصورت کامل نباشد به انتظار شرایط بهترنباید نشست تا همه امکانات در اختیار نیروهای مبارز ومومن واقع شود بلکه باید آنچه ممکن است شرایط را آماده ساخت و برای جلوگیری از انحراف وبرای جلوگیری از بین رفتن ارزشهای والای اسلامی دست به مبارزه زد آماده شهاد ت و آماده فداکاری شد .**

حفظ ارزشهای اسلامی شده وهمچنان در کشورعزیزمان افغانستان گرچه بعد از تشکیل دولت اسلامی با مشکلات زیادی روبرو شدیم اما به لطف خداوند باردیگر می بینیم که باوجود همه مشکلات وشهادت ها و ویرانی ها، ما وشما وملت مسلمان ما توانستیم اژدهای کمونیزم را نه تنها در افغانستان سرکوب بسازیم بلکه در دنیا سرکوب شد و امروز احیای مجدد دعوت اسلامی مرهون قیام ملت مسلمان ومومن ماد رافغانستان امت .

زمانیکه ازشهادت امام حسین (رض) یادمیکنیم این مطلب رانباید فراموش کنیم امام حسین رمزوحدت واخوت درمیان همه مسلمانان است. امام حسین مربوط به همه امت اسلامی شیعه وسنی وهمه طوایف وهمه مذاهب اسلامی است هیچ کسی نمی تواند خودرا دوستدار پیامبر بداند واهل بیت اورا دوست نداشته باشد وهرکسی که خود را مدعی اسلام ومسلمانی سنتی پیامبربداند ولی امام حسین واهل بیت اورا دوست نداشته باشد دروغ میگوید زیرا پیامبر که همه اورا دوست داریم نواد های گرامی خودرا طوری دوست داشت که حتی در دوران که باخدای خود درحالت رازونیازبود حضرت حسن وحسین میامدند روی شانه هایش سوارمی شدند و درآن حالت پیامبر صلی الله علیه وسلم طوری آرام حرکت میکردند تاآنها بزمین نیافتند آهسته حضرت امام حسن وامام حسین را بزمین میگذاشتند بازبه قیام میپرداختند . پیامبر گرامی راکه همه دوست داریم حضرت امام حسین وامام حسن رابه این حد دوست داشت لذا هرمسلمان یقیناً که نواده های پیامبر گرامی واهل بیت اورا ازاعماق دل خود دوست دارد .

برادران عزیز!

شهادت حضرت امام حسین درس برای همه مسلمانان است برای همه طوایف ومذاهب اسلامی لازم است که این درس را درس محبت ، اخوت ومبارزه بدانند ودربهلوی هم دیگربرای همیش قرارگیرند ویکجا ازاسلام وناموس اسلام دفاع نمایند .

پیامبرگرامی میفرماید :

ای مسلمانان ! بشمادوچیزراگذاشتم اگربه آن تمسك جوئید وچنگ بزنید هرگزگمراه نمی شوید یکی کتاب خدا ودوم خانواده من . پس راه خانواده واهل بیت مثلیکه قرآن راه نجات ووسیله بقای امت اسلامی است راه وروشی که اهل بیت پیامبر گذاشته باعث بقای اسلام وامت اسلامی است وهرکسیکه برقرآن تمسك نمی جوید وبه روش پیامبر گرامی تمسك نمی جوید به بیراهه وگمراهی رفته است .

برادران وخواهران !

درحالیکه بروح سیدالشهداء وهمه شهدای اسلام اتحاف دعانموده ودعامیکنیم که خداوند برای همه ما ومسلمانان به برکت خون سیدالشهداء و سایر شهدای راه اسلام برای همه مسلمانان عظمت ، قوت واستواری نصیب نماید تا ازاسلام وارزش های اسلامی دفاع بکند . یك مطلب را به ارتباط اوضاع کنونی بصورت خلاصه میگوییم : چنانچه همه شاهد هستیم بعدازتشکیل دولت اسلامی کشور ما وبخصوص شهرکابل به مشکلات زیادی روبروشده است. توطئه های مختلفی دامنگیر ملت مظلوم ماشده است ویرانی هاوتباهی های زیادی به میان آمده است. هدف توطئه گران ودشمنان اسلام دربهلوی این ویرانی ها این بود که ملت مومن ماراینام های مختلف جداکنند ودرضدیکدیگر قراربدهد بنام این ملیت وآن ملیت، این قوم وآن قوم بنام شیعه وسنی ازهم جدابسازد کشمکش های خونینی بصورت بسیارطویل المدت درتاریخ معاصر افغانستان بمیان آرند و میخواستند افغانستان راتجزیه کنند تاملت ماهمیش درکشمکش بوده باشد امابه لطف الهی بادرایت علمای دینی مابادرایت رهبران احزاب سیاسی ما بادرایت افراد دلسوز وخداپرست ما به لطف الهی این توطئه هایکی بعدیگرخنثی شدوخنثی می شود .

دولت اسلامی افغانستان بخاطر وحدت نیروهای جهادی بخاطر حفظ حاکمیت ملی درکشور ماوبخاطر پاسداری از ارزش های والای انقلاب اسلامی دست به یك سلسله تلاش های وسیعی زد تاگروه های مختلف جهادی پهلوی هم دیگر قرار بگیرند وصفوف جهادی متحد شود تاهمه ملیت های افغانستان دربهلوی همدیگر قرار بگیرند . این تلاش های ما جریان دارد وماهمیشه تلاش خواهیم کرد تاملت ماواحد ویکپارچه باقی ماند وهمه ملیت ها وهمه مردم ما تمام مردم افغانستان شیعه وسنی ما، تاجك وهزاره ما، پشتون وازبك ما، ترکمن ، نورستانی ،پشه یی وبلوچ ما همه ملیت ها پهلوی همدیگر برادروار درساختار افغانستان اسلامی، افغانستان مستقل، افغانستان متحد باهم همکاری کنند ویقیناً که برادران ما درشهرکابل مخصوصاً پیشوایان دینی وعلمای مذهبی ما دراین راستا کارهای مهم وعمده یی راانجام داده اند .

بزرگان قلعه فتح الله دربخش وحدت وبرادری علمای این منطقه ازهیچ نوع تلاش مثمروثمربخشی دریغ نکرده اند امیدواریم که درآینده نزدیکی شاهد رفع تمام کشیدگی ها واختلافات بوده باشیم . شاهد وحدت کلی درسطح کشور مابوده باشیم . شاهد ختم جنگ بوده باشیم . امیدواریم یك مشت عناصر خود فروخته یی که بنام طالب شهرکابل رابیرحمانه موردپرتاب راکت قرارمیدهد این هاهم متوجه شوند اینها هم بسوی صلح وبسوی اخوت وبرادری متوجه شوند وبیش ازاین درخدمت دشمنان اسلام وافغانستان قرارنگیرند . من یکباردیگر ازبزرگان قلعه فتح الله ازمسئولین وبرادرانی که مسئولیت این تکیه خانه تاریخی رادارند اظهارسپاس میکنم وعلاوتاً اعلان میکنم دولت اسلامی به ارتباط ترمیم تکیه خانه یك بودجه راتخصیص خواهد داد تا درمورد ترمیم این تکیه خانه تاریخی

ص(٤)

# شرط

میوند

په امریکا کی یوی ورځپانی یووخت لیکلی وو :دامریکا دسنا مجلس نیمایی غړی احمقان دی .سنا ددغی ورځپانی پر خلاف جدی موقف ونیو ،خبره محکمی ته ولاړه اوپریکړه وشوه چی ورځپانه بایی خپله خبره بیرته واخلی اومعذرت وغواړی .

ورځپانی دخپلی خبری بیرته اخیستل اومعذرت په یوه سرلیك کی دا ور وړاندی کړ : موږ دامریکا له سنا نه معذرت غواړو خپله خبره بیرته اخلواو پدی عقیده یوچی « دامریکا دسنا مجلس نیم غړی احمقان ندی . »

وایی چی مطبوعات دصحیحو خبرونو، سلیمو معلوماتو، ثابتو حقایقواوواقعیتونوڅخه دخلکو خبرولو اوپه حوادثو باندی دخلکو دخبرولواوپوهولو له لاری دستونزو دحل کرلو خواته دروی دفکر اړولو مفهوم اومقصد لری داډول چی له خلکو څخه د حقیقت لاره اولیکه ګډه وډه نکړی اوپه حقیقت باندی دسترګود پټولو سبب ونه ګرځی ، له مطبوعاتو نه باید هیڅکله دخلکو دذهنونو په تسخیرولو کی استفاده ونشی.

دمطبوعاتوملا دوچو تبلیغاتو تر بار لاندی باید کړه نشی اودلوستونکو په ذهنونو هم دا ډول یو دروند بار تحمیل نکړی.

واخله موده دلته مطبوعات عجیبه خبرونه خپروی . یوه ورځ خبر خپروی ولیکل چی مولوی خالص په کندهار کی دطالبانو له تحریک سره بیعت وکړ اودهغوی له داعیی نه یی بی چون اوچرا بشپړه اوهراړخیز ملاتړ اعلان کړ.

دغه ډول خبرونه په لی تغییر دمولوی محمدی اوپیرګیلانی په اړه هم خپاره شول .

خو کله چی مولوی خالص جلال آباد ته راستون شو دغه خبرونه یی بی بنیاده وګڼل، اعلان یی کړه چی دی نه وطالبانو تأیید کوی اونه هم مخالفت ، ددوی ښو کارونو ته ښه اوبدو ته یی بد وایی ، مولوی صاحب بله ورځ

## حال دویلو لایق نه دی

دننګرهارله تلویزیون سره په مرکه کی وویل چی د حزب اوجمعیت ائتلاف ته په ښه نظر ګوری .

په کندهار کی دمولوی صاحب خالص ، محمدی اوپیر ګیلانی ازطالبانو دګډی پریکړی نه دوی خبری را خرګندیږی چی هلته دامیرالمؤمنین دلقب څه یادونه نه ده شوی ، بله داچی هرډول خبرونه داستاد ربانی استعفا شرط ګڼل شوی ، خو دغه شرط باوجود ځو ورځی مطبوعاتو هغه محترمو مشرانو ... په جلال آباد کی له هغه جمهور رئیس سره لیده کاته وکړل چی دجمهور رئیس په صفت یی په پیژندلو او منلو خوله نه چوله کیده او دبحران موجب یی ګاڼه ، تر د ی چی داخبارونو په قول مولوی صاحب خالص دده په حکومت کی دبهرنیو چارو ،زارت ته خپله اشتها پته نشرای کړای ، خو مولوی صاحب بیا هم دا خبر رد کړ او دایی مطبوعاتی بد عنوانی وګڼله .

سوال دادی چی خلك کومه ومنی ، دبرون خبر اوکه دنن خبر ، بله داچی داټولی خبری اوشکونه یواځی دمولوی صاحب خالص په اړه ولی را پیدا کیږی اومطبوعات ځنګه دمولوی صاحب دموافقو په اړه داوږ ضد اونقیض خبرونه خپروی؛که مطبوعات خلکو ته دا تأثر ورکوی چی نغده هیڅوك هم په تسیه نه بدلوی او دغه محترم مشران چی کندهار ته د صدارت اوجمهوری ریاست په تمه ورغلی اودمتبادل حکومت داعلان تلوسی متحرك کړی وو ، تش لاس پاتی شول ، ځکه خو دنغد حکومت ... وزارتونو اوامتیازاتو دزړه صبریدل ګران کړی او رښتیا هم چی دا کاروی .

که هرڅو مطبوعات دا په پرمشرانو واچوی چی دوی دی داسی ګډی وړی نه وایی خو بیا هم خپله غاړه نشی خلاصولی اودهغه امریکایی ورځپانی ټوکه نشی جوړولی .

دلته که دصاحبانومطلب داؤ چی طالبان ددوی هغه جرم ویښی چی دهریکیانو په نوم وربوری نښتی ژ نودا ددوی سیاسی ځیرکتیا ضرور ګڼلی شی .

زما خبره ترمشرانو پوری نه بلکی تر مطبوعاتو پوری وه چی ددوی خبرونه ددی پر ځای چی خلك دصحیحو خبرونو ، سلیمو معلوماتو، حقایقو اوواقعیتونو نه خبر دړی او دحقیقت لار اولیکه تر ی ګډه وډه نکړی ، هغوی ته داسی څه وړاندی کوی چی کاڼه ،رانده اوګونګ یی کړی لاری ګودری تری ورکی شی اودغه ورکه ورته اخبار داسی ګډه وډه کړی چی ځان هم تری ورك شی . څه موده مخکی یو خبر دا هم خپورشوی ژ چی مولوی صاحب جلال الدین حقانی ځان دطالبانو دتحریك یو سپاهی ګڼلی ژ.

حقیقت دادی چی ځان خو جنرال ضیاء الحق هم سپاهی ګاڼه خو داسی سپاهی چی یوولس کاله دجمهوری ریاست پرڅوکی ناست و،مولوی صاحب حقانی خودمولوی صاحب خالص دجنوبی محاذونو دقوماندانو یا دوهم شخص په توګه هم نه ؤ ... ظاهراً قوماندانان یادیده خو هرڅه یی له تنظیم ... دټولو تنظیمونو قوماندانانو په سرتاسری شورا کی راغونډ کړل اوتږلی ژ چی دقوماندانانو حزب جوړ کړی. که نور نه وی ، نو ورشی دمولوی صاحب خالص په زړه ګوتی کیږدی چی دده له لاسه یی اوس هم دزړه پولی ندی روغی شوی .

اوس څنګه کیدای شی هغه څوك چی په یوه وخت کی هم قوماندان وی اوهم رهبر ، ځان سپاهی ولیدلی شی ، دطالبانو یوه ستونزه داده چی دوی له غټو غټومشرانواوقوماندانانو سپاهیان جوړوی ، که دغومشرانو ځانونه سپاهیان ګڼلی څه چی تصور کولی هم شوای نر طالبانو ته ددومره تکلیف ضرورت نه پیښیده ، دچا لوبول سخت ندی ، ذوالفقار علی بوټو دځو کرښو په یوه فرمان جنرال ضیاء د پوځ سرلیکو وټاکه ، خو دهغه لیری کول ورته دسر په بیه تمام شول .

مجددی صاحب وایی چی محترم احمد شاه مسعود ده ددفاع وزیر ټاکلی ژ خو دده له خوا ټاکلی شوی وزیر دمجددی صاحب په قول ده ته په ارګ کی ایله څو کوټی ورکړی وی چی له هغوی هم راویوست .

دانبه شوه چی دکند هار په غونډه کی له دریو جهادی ګوندونو نه دخیانت اوټوپك والی تور لیری شو !! دا یوه لار وه چی نبه شوه تیره شوه ،دغی لاری کیدای شی هغه اندیښنه هم یوڅه لیری کړی چی طالبان یوالی سپاهیان دی غواړی ، بلکی شخصیتونو اوګډونو ته هم ضرورت لری .

چی ښیلتون په ستر ګو ویش اشتباهی ګا ... مهرخواه

# ولس په شعارونو نه قانع کیږي، عملي بدلون غواړي

**دافغانستان داسلامي انتقالي حکومت صدراعظم ورور و حکمتیار د چنګاښ په ۹ مه دکابل دشکردرې په ولسوالۍ کې ویناوکړه چې دلته ئې متن وړاندې کوو. دویناشروع چې حمداودرود اودخواپتونو تلاوت دي سم نه اوریدل کیدل په همدې وجه له پیاده کیدوپاتې شول.**

واقعیت دادي چې موږ دامتحان یوه درنه، اوږده اوډخم اوپېچ نه دکه مرحله تیره کړه.

دامرحله که څه هم اوږده وه، دکړاوونو اوستونزو نه دکه وه ولي الله (ج) لطف وکړ، موږ په هغه امتحان کې کامیاب شو. هغه کسانوچې جهادئې دخداي (ج) په نامه اودالله (ج) درضالپاره پیل کړي وو دهغوي اکثریت ولاړل له خداي (ج) سره ئې په خپلوعدو وفاوکړه، خپل سراوونې ئې دخداي (ج) په لاره کې نظرانه کړي، دهغوي اکثریت په شهادت ورسیدل، هغه کسان چې ددې تحریك په ابتدا کې ئې دهمدې عزم وکړ، دخداي (ج) په لاره کې ئې ملاوتړله. دهغوي په سلوکې (۹۰) په شهادت رسیدلي دااوس چې هریوله ځان سره څولحظې فکروکړي دهغوکسانوچې یووخت ئې زموږ په څنګ کې دمبارزې اوجهاد لپاره اراده وکړه اوس زموږ په صف کې نشته، موږ لوي لوي شخصیتونه په دې جهاد کې له لاسه ورکړي، په جهاد کې سترشول، په تحریك کې اوچت شول اوهغوي دخداي (ج) په لاره کې په شهادت ورسیدل. الله پاك لطف وکړ، دالله (ج) دلوي نصرت، دوسیع رحمت اوفضل په نتیجه کې موږ دامتحان په هغه سختې مرحلې کې کامیاب شو. روس شکست وخوړ، افغانستان آزاد شو، دکمونستانو د اقتدار ماڼۍ نسکوره شوه مجاهدینوفتح اوبریع ترلاسه کړئ دهغوي ملك آزاد دي نن هماغه دظلم قصرونه ددوي په لاس کې دي، خوموږ دامتحان له یوې مرحلې نه بلې مرحلې ته داخل شوي یو حقیقت دادي چې دامرحله، ترتیرې مرحلې نه ډیره خطرناکه اوګرانه

> امنیت په دې معنی چې خوف اوویره نه وي، دلوږې نه دې خوف نه وي، له ظلم اواستبداد نه څوك ونه ویریږي، هرڅوك دخپل سر، مال، ژوند، عزت خوندي وګڼي، لکه چې پیغمبر علیه السلام فرمائي چې ښځه دحجاز دیوسرحدنه تربل پورې دروميي دشرعي محرم نه پرته خودخداي (ج) نه پرته به له بل چانه نه ویریږي امنیت په دې معنی، دغسې یوامنیت په ملك کې راوستل داآسان کارنه دي، که موږ (٤) کاله دمخه متحدشوي واي شاید ډیرمشکلات به مویه اساني حل شوي واي متأسفانه موږ ډیربه فرصتونه له لاسه ورکړل اوس مسئله نووره هم پیچیده شوله، اوس که موږ ټول هم یوبل ته لاس ورکړو اوتوانیدلي شوجنګ ختم کړو، امنیت تأمین کړو دابه زموږ لپاره سترموفقیت وي.

وه اوکم کسان په دغسې مرحلې کې کامیابه شوي دي هغه کسان چې دکړاوونوپه وړاندې ئې صبرکړي دهغوي شمیرهمیشه په مبارزې کې زیات و همغه کسان چې قدرت ئې ترلاسه کړي بیا خپل آرمان ته مخلص پاتې شوي، سقوط ئې نه دي کړي، بې لارې شوي نه دي او خپل ایمان اواخلاص ئې له لاسه نه دي ورکړي، اقتدارنه د دوکه کړي دهغوي شمیرهمیشه کم دي، الله (ج) دې لطف وکړي چې په دې مرحله کې هم موږناکام نشو اودالله (ج) دلطف او فضل نه پرته بله التجا مرجع نه لرو. واقعیت دادي چې زه دااوسنې مرحله تر پخوانې ډیره ګرانه ګڼم چې کابل ته هم راتلم زړه مې درېبدلو چې آیازه به وتوانیدلي شم چې خپل مسئولیت په دغه خطیره مرحله کې هم ادا کړم څوك به له دې نه انکارکړي چې نن زموږ په وړاندې هغه لوي، لوي مشکلات واقع دي چې که داټول جهادي قوتونه په اخلاص سره یوبل ته لاس ورکړو اوتوانیدلي شو یوه برخه ددې مشکلات هم حل کړو دابه زموږ لپاره لوي سعادت وي، دجنګ مصیبت لـه یوې خوا، ورځ په ورځ ئې ابعادوسیع کیږي، د جنګ نـه چې کوم مصیبتونه راولاړشوي، ویره اوخوف، بې امنیتي، فقر، لوږه، دنظام نشتوالي دحکومت نشتوالي او داقتدار ویش په مختلفو لاسونو کې دولت په یوه محدوده ساحه باندې کنترول لري، په همدغه ساحه کې تاسو وګورئ مستقل قوتونه، که چیرې حزب مسلط دي چې منظورمې له حزب نه یوتنظیم او یوقوت دي، هغه هم مجبوردي چې مستقلومحلي قوتونوته باج ورکړي دولت په مجموع کې دغسې یواقتدار دي چې په ټول ملك کې ئې سلطه وي اوهغه حدودنافذ کړي شي، احکام جاري کړي شي، امنیت تأمین کړي شي، اجتماعي عدالت تأمین کړي شي، اسلامي نظام قائم کړي شي، سرحدات کنترول کړاي شي دملي حاکمیت او ارضي تمامیت نه دفاع وکړي شي، څوك پرې نږدي زموږ په کورنیو چاروکې مداخلت وکړي، په دې معنی دولت نشته، دادولت به موږ جوړوو، که له دغومشکلاتو یوه برخه هم موږټول په ګډه په صادقانه اومخلصانه دول یوبل ته لاس ورکړو حل کړي شو

واقعاً دابه زموږ لپاره لوي موفقیت اولوي سعادت وي.

دښمن دانه غواړي چې په افغانستان کې دې سوله، امنیت اواستقرار راشي، هغه د اسلامي حکومت دجوړیدونه ویره لري، دهمدغه ویرې په وجه دي چې ګوري ددنیا ټولې جګړې اسلامي نړۍ کې دي په اسلامي ملکونوکې دي، دمسلمانانو او اسلام خلاف، د ټولـو جګړو مهاجرین مسلمانان دي، نن ددنیا ټولې جګړې په اسلامي ملکونو کې دي، شاید ددې یوه وجه داوي چې په دغه اسلامي ملکونو کې موږ عادلانه اجتماعي نظام نه لرو، اکثراً استبدادي نظامونه دي چې حکومت کوي، دعادلانه اجتماعي نظام دنشتوالي په وجه دداخلي کشمکش اوجګړو عوامل اوزمینه برابره شي چې یوعامل همدادي بل سترلوي اواساسي عامل ئې دادي چې له بهرنه جګړې په موږ تحمیل شوي څکه دښمن په دغوجګړوکې خپلې ګټې لټوي، په اسلامي ملکونو کې که تشنج وي، بې امنیتي وي، استبدادوي، جګړې وي، ددې په نتیجه کې به دهغوي سرمائې هم قرارکوي، دهغه استعدادونه به هم نورو ملکونوته قرارکوي، دهمدې لپاره نن په عالم اسلام باندې داجګړې تحمیل شوې دي، له الجزایر نـه ترپرماپورې په دې خوراوراسلامي لسوي ملك کې دامن، تیکي اوآرام څـان نشته. جګړې دي، استبداددي، عـدم استقراردي، داخلي کشمکش دي، لـه بهرنه جګړې تحمیل شوي، زموږ ټولي ششنې په همدغو داخلي جګړو کې تباه کیږي، افغانستان یوځونه ددې، ددې اوترټولو حساسه نقطه څکه دښمن په دې پوهیږي که دجهاد تجربه کامیاب شوه اودجهاد په نتیجه کې پس له هغه چې یولوي طاقت په ګونډه شوي یوه لویه امپراطوري په زوال محکوم شوي ده خالي لاس یوقوم څو

دخداي (ج) په توکل اواعتماد، دجهاد په نتیجه کې هغه نسکورشوي اودښمن ته ئې شکست ورکړي، هغه فتح اوبریع ترلاسه کړي که داتجربه کامیابه شوله، په کابل کې یوقوي مرکزي اسلامي حکومت جوړشو اوقدرت دمجاهدینو په لاس کې متمرکزشو، طبعي ده چې دا بـه نورو محکومو اومظلوموملتونو ته یوه لارجوړه کړي، هغوي به هم همدغه لاراختیاروي، دښمن له همدې نه ویریږي که ددې جهادپه خلاف توطئې دي، داجګړې له بهرنه په موږ تحمیل شوي دي لوي اواساسي وجه ئې همداده، ددې جګړو مختیوي جګړې پاي ته رسول، اوټول دې ته قانع کړل چې دجګړو په ځاي دمذاکراتو، اوروغې جوړې لار اختیار کـړي، هغـه خپل خیراودملك خیرپه جګړو کې نه بلکه په سوله کې ولټوي، هغه په دې پوه شي چې دجګړونه ئې ګټه دښمن ته رسیږي، هغه په دې قانع کړل چې اقتدارته درسیدلو لپاره دجګړولارغوره نکړي، که هغه مسلمان وي پـه دې ئې باوروي چې داقتدار دلاس ته راوړلو هڅه کول حرامه ده، بیادجګړو له لارې، دمسلمان دوینې دتویولوله پاره په داسې حالت کې چې دهغه لپاره توجیه هم نه لري، دلیل هم نه لري، تفاهم نه لري، هغه په دې پوهول اودجنګ له سنګرونوته ئې راکوزول دمذاکراتو میز تـه، خبرو اترو ته هغه چمتوکول دا آسان کارنه دي، متأسفانه ګورو چې اوس هم داسې قوتونه شته چې په جنګ اصرارکوي، هغه دځان خیر، دجګړوپه دوام کې لټوي په دې هم پوهیږي چې دجنګ دځلورکلنې ترخې تجربې بدعواقب درلودل له آینده ته ئې هم مطمئن اوواده نه دي، نه خپله قانع دي، نه بل ته قناعت ورکولي شي خوسره له دې هغه په جنګ اصرار کوي، زموږ مخکې دوه لارې دي یادجنګ پـه دوام باندې اصرار، دانتظارلارغوره کـړل مجهول سرنوشت ته منتظرپاته کیدل، پرېښودل چې دهمدغه جګړوپه لارکې، دجګړو ددوام په نتیجه کې بالاخره په یومرحله کې دافغانستان دمسئلې لپاره یوحل راووځي، یوه دا د جنګ لاراویله دهغې بدیل دسولې لار.

موږ دسولې لاره غوره کړه واقعیت دادي چې سوله ترجنګ نه هم زیات شهامت اوشجاعت تـه ضرورت لري، په همدې خاطردي چې قرآن فرمائي په سوله کې به هم په خداي (ج) توکل کوي « وان جنحواللسلم فاجنح لها وتوکل علي الله ... » داهم توکل اواعتماد په خداي (ج) غواړي، باوروکړئ چې دجنګ ترفیصلې موږ ته دسولې فیصله ګرانه وه، خوموږ داسلام پـه خاطر، دخپل ملك دژغورنې لپاره، ددې لپاره چې دملك دادردناك حالت بدل شي موږ دسولې لاره غوره کړه او وروڼوته مو داویلي چې موږ هیڅ شرط نه لرو فقط اسلامي نظام غواړو.

اول نظام غواړو بیا اسلامي نظام غواړو، دې ته تیاریو چې عبوري اوموقت حکومت ټول توروته وسپاروله موږنسره دې فقط داومنلي شي چې په ملك کې به اسلامي نظام راځي اوزعامت به دملت په خوښه ټاکل کیږي، موږ په دې باوریوچې په اسلام کې دجبراو دزور حکومت نشته، موږ په دې باوریو چې داسلامي نظام لري خوښنه داده چې امیر به ئې دمعلن اوله اکراه اواجبار نـه پرته بیعت په نتیجه کې ټاکل کیږي، لـه موږنسره دې فقط همداخبره ومنلي شي چې دلته به اسلامي نظام راولي، حکومت به دخلکوله ارادې نه رااوچت شوي وي، خلکوبه په خپله خوښه انتخاب کړي وي او خلکوبه په خپله خوښه ورسره بیعت کړي وي ګمان کوو چې له دې نه پرته سوله نشي راتلي، د هغه بدیل جنګ دي، کـودتـا ګانې دي، انقلابونه دي، دتوپ او ټانك استعمال دي، او دزور له لارې قدرت تـه رسیدلي دي، په زور په خلکوحکومت کـول دي، په اسلام کې دزور حکومت نشتـه له مسلمانانو شرعي او مسلم امیرهغه دي چې خلکو په خپله خوښه داکراه اواجبارنه پرته له هغه سره بیعت کړي وي، موږ وایو بلاقید اوشرط ستاسو مرسته کوو، له کابل نه دفاع کوو، نه پریږدو چې کابل دې سقوط وکړي اواقتدارهم ټول تاسوته سپارو، زموږ پرسونل ته ضرورت وي داهم ستاسو په خدمت کې ده، په حکومت کې هم شرکت کوي چې چیرته ئې لازم ګڼي همهلته ئې توظیف کړي، موږ دسولې لاره له قیداوشرط نه پرته غوره کړې داموهم ویلي چې که غواړي موږ حکومت کې اوسیږو نوموږ نظام غواړو، اداره غواړو، ضوابط غواړو او دلته باید موږ یوه غوره تونه اسلامي نظام وړاندې کړو، ملت همدې ته منتظر دي، که موږ نظام راته وښتلي شو ددې انقلاب یوهدف هم نشوترسره کولي، ترټولو دمخه باید موږ په ملك کې نظام راولو، ټول هغه کسان چې دهمدې پروسې سره یوځاي کیږي باید داومني چې داویشل شوي متشتت، پراګنده اقتداربه یوقانوني مرجع کې متمرکزشي اوس هغه قوتونه چې په جنګ اصرارکوي، ګمان کوي چې دپردیو په مرسته یاله دې اختلافاتو نه په استفادې سره کولي شي هغه قدرت ته ورسیږي، هغه په دې قانع کړل چې جنګ دمسئلې دحل لارنه ده، داآسان کارنه دي، په ملك کې امنیت تأمینول ساده کارنه دي، امنیت په دې معنی نه چې فقط جنګ دې نه وي امنیت په دې معنی چې خوف اوویره نه وي، دلوږې نه دې خوف نه وي، له ظلم اواستبداد نه څوك ونه ویریږي، هرڅوك

> زه طالبانو ته وایم چې ستاسو خیرهم پـه دې کې ده چې له دې بهیرسره یوځاي شي دغه مقابله ونکړي، تاسو یواځي ډیری، یوې دلي مقابله هم درته ګرانه ده اوس دیو ګـډ صف مقابله درته ډیره ډیره ګرانه ده اوستاسو شکست حتي په یوجبهه کې هم دشکست عواقب اوانجام به ډیرخطرناك وي دې ته هم باید توجه وکړي چې کـه دکابل شاوخواکې په یومحاذ کې تاسوشکست وخوړو بیا به نه وګورئ چې ترهراته پورې تاسوه څه کیږي، خپله قوم درسره څه کوي، دچاکورته چې ور اوښتلي ئې اوهغه دې سپك کړي دهغه وسله دې په زور اخیستي دقوماندان دمجاهدینو دروودې سپك کړي، توهین کړي، وهلي، تکولي، په کیبلونو، نه به بیاوګورئ چې هغه له تاسره څه کړي

